# دَ نواب محمد شریف خان د علمي او ادبي خدماتو تحقیقي جائزه

# A Research Study of Lliterary Services of Nawab Muhammad Sharif Khan

Issn 2304-1463

Saeed Ahmad Sahil[1]
E.mail: saeedkhandir123@gmail.com
Phone No: 0346-5352308

**Abstract:**

Nawab Muhammad Sharif Khan remained ruler of princely state of Dir. He had inclination towards literary activities as well. Some people may not agree with some of his political policies that he adopted during his reign but his contribution in literary field cannot be denied. They had love for learned and literary people due to which individuals with scholarly qualities were part of his court. In his era, he remained engaged in armed conflicts with internal and external forces. He had to cope with conspiracies and rebellion within the State. However, despite all these odds, he was able to contribute in the literary field as well. His endeavours in this regard are of great importance and it contributed towards promoting Pashtu language. In this research article, a review of the literary works is given that were written, translated and published with the support of Nawab Muhammad Sharif Khan. These literary services were “Manaqib Hazart Akhun Ilyas” by Muhammad Sharif Swati, “Shahana Ferdosi” (Pastu Translation) by Maulvi Muhammad Rafiq, “Tehzibul Islam alias Tuhfa Sharifia” by Qazi Irfan Uddin and “Sahifa Zareen” by Prag Narien Bhargo”. This study will reveal the personality traits of Nawab Sharif Khan, his administrative skills, generosity, love for knowledge and his literary taste.

**Keywords:**

Dir State, Literature, Pashto, Persion, History, Nawab Muhammad Sharif Khan, Qazi Irfan Uddin, Maulvi Muhammad Rafiq, Muhammad Sharif Swati

نواب محمد شریف خان د ریاستِ دیر یو داسې نومورے حکمران تېر شوے دے چې د یو حکمران سره سره د بنهٔ علمي، روحاني او ادبي ذوق ښبنتن هم وهٔ - د حکمران او نواب په حېث د هغوي د ځینې سیاسي او انتظامي اقداماتو سره اختلاف ضرور کېدے شي ولې خو د هغوي د علمي او ادبي خدماتو څخه انکار نهٔ شي کېدے - د نواب محمد شریف خان سلسله نسب هم د دې خاؤرې یو داسې علمي، مذهبي او روحاني شخصیت حضرت اخون الیاس نقشبندي رحمته الله علیه ته رسیږي چې ذاتِ بابرکات ته ئې د ریاستِ دیر ابتداء منسوب کولے شي - د حضرت

[1] Ph.D. Scholar, Department of Pashto, University of Peshawer, Khyber Pukhtunkhwa

اخون الیاس نقشبندي رحمته الله علیه مشن بیا د هغوي اولاد تقریبا تر درې سوه کالو پورې په څۀ نا څۀ صورت کښې جاري او ژوندے وساتلو - د دې سلسلې یوه اهمه نامه د نواب محمد شریف خان هم ده چې په اووم پُشت کښې د حضرت اخون الیاس نقشبندي رحمته الله علیه په اولاد کښې راځي -

نواب محمد شریف خان په کال ۱۸۴۸ء شاؤخوا کښې زیږېدلے وۀ - په کال ۱۸۸۴ء کښې ئې د خپل پلار خان رحمت الله خان د وفات نه وروستو د ریاستِ دیر حکمراني په خپل لاس کښې واخیسته -[1]ولې خو په کال ۱۸۹۰ء کښې د عمرا خان جندولي سره د حتمي معرکې نه وروستو جلا وطن شۀ -[2] په کال ۱۸۹۵ء کښې ئې د پولیټیکل افیسر مېجر ډین سره په درګۍ کښې د ملاقات نه وروستو د فیرنګي سرکار په مرسته د خپل بائیللي اقتدار په بېرته ترلاسه کولو کښې کامیاب شۀ -[3] په کال ۱۸۹۷ء کښې ورته د فیرنګي سرکار لۀ خوا د نواب خطاب ورکړے شۀ، کوم چې لۀ دۀ نه وړاندې د دۀ پلار خان رحمت الله خان ته د افغانستان د والي امیر شېر علي خان لۀ خوا ورکړے شوے وۀ - نواب محمد شریف خان په ۰۷ دسمبر کال ۱۹۰۴ء کښې لۀ دې فاني دنیا څخه سترګې د همېشه د پاره پټې کړې او په خان شهید قبرستان دیر کښې خاؤرو ته وسپارلے شۀ -[4]

نواب محمد شریف خان د عالمانو، ولیانو، قاضیانو، ادیبانو او شاعرانو سره ډېره مینه لرله - په روحاني حواله په سلسله عالیه قادریه کښې د پیرزاده عبدالسلام صاحب بغدادي متعقد هم وۀ -[5] د نواب محمد شریف خان د دربار سره د مختلفو علاقو نوموړي عالمان، خطیبان او قاضیان تړلي وو چې د ریاست متعلقه ذمه وارۍ به ئې سر ته رسولې - په دوي کښې د خاص دیر قاضي لالا صاحب، د اوډیګرام قاضي محمد اعظم صاحب، د اوچ مولوي لعلي قاضي صاحب، د چغرزو مولوي خېر الامان صاحب، د بټخېلې قاضي عرفان الدین صاحب وغېره شامل وو -[6] ځینې روحاني شخصیات هم د ریاست د دربار سره تړلي وو چې پکښې خواجه معین الدین صاحب المعروف تېمرګرې صاحب او د عشېرۍ پالام بابا صاحب مشهور دي -[7] نواب محمد شریف خان ساه هم د حضرت خواجه معین الدین صاحب المعروف به تېمرګره صاحب په غېږه کښې لوے ځښتن ته سپارلې وه -[8] دغه شان ځینې شاعران، ادیبان او مداحین هم د ریاست د دربار سره تړلي وو چې پکښې د ځوکنو پېښور نوروز خان شاعر، د کوزه بانډۍ سوات ملا محمد شریف سواتي او د جنګنامه دیر لیکوال ملا فضل الرحمان شامل وو -[9] نواب محمد شریف خان ته د خلافت عثمانیه د هغه وخت خلیفه سلطان عبدالحمید دوم د "معین الاسلام"

خطاب هم ورکړے وۀ - لۀ دې نه دا هم څرګندیږي چې ریاستِ دیر په دغه زمانه کښې د ګاونډي ریاستونو سره د خلافت عثمانیه سره هم مظبوطې اړیکې لرلې - قاضي عرفان الدین صدیقي په خپل قلمي کتاب "بدر منیر در احوال دولت دیر معروف تذکره محمد اورنګ زیبیه" کښې د نواب محمد شریف خان متعلق لیکي:

*"بتوجه حضرت شیخ آدم بنوری علیه رحمته الباری ریاست خاندان دیر بنام مورث اعلیٰ این خاندان حضرت اخون الیاس صاحب که مرید خاص و معتقد با اخلاص حضرت شیخ آدم مذکور بود منعقد و مرتب گردید و رفته رفته ترقی گرفته حتی که در زمانه مغفرت مآب رحمت مآب حاتم زمان مرغوب جهان نواب محمد شریف خان صاحب بسبب کرم پروری و خلائق حسنه او این ریاست نامی باقطار جهان مانند آفتاب تابان و درخشان گردیده و خلائق نزدیک و دور منت بار و احسان بردار آن نواب مرحوم و مغفور گردیده و موافق و مخالف هر تعریف و توصیف آن یگانه روزگار یک زبان گشته و علاوه از استحقاق خود از جانب سرکار برطانیه اورا اعزاز و خطاب باالقاب نواب دیر و صوات حاصل شده حتی که بوجه علو همت و فرط سخاوت و شهرت شجاعت اورا از جانب سلطان المعظم سلطان عبدالحمید خان صاحب دوم لقب و خطاب معین الاسلام به امتیاز تام اختصاص خوش فرجام رسیده"*۔[10]

ژباړه: د حضرت شیخ آدم بنوري علیه الرحمه په خصوصي توجه د هغوي د خاص مرید او مخلص معتقد حضرت اخون الیاس صاحب په وجه د ریاستِ دیر د بنیاد تصور مخې ته راغلو، ځوک چې د ریاستِ دیر د حکمران خاندان مورث اعلي دے - دې ریاست ورو ورو پرمختګ وکړۀ او د مغفرتِ مآب، رحمتِ مآب، حاتمِ زمان او مرغوبِ جهان نواب محمد شریف خان صاحب د سخاوت او اخلاقِ حسنه په وجه دې دیاستِ دیر د دنیا په قطار کښې ځاے پیدا کړۀ او لکه د روښانه نمر وځلېدۀ - دغه شان نزدې او لرې ټول خلق د خداے بخښلي نواب منت بار او احسان مند وو او خپلو او پردو به ئې په یوه خلۀ تعریفونه او صفتونه کول - لۀ دې نه علاوه د فیرنګي سرکار لۀ خوا ورته د نوابِ دیر و صوات اعزاز او خطاب هم ورکړے شوے وۀ - دغه شان د خپل لوړ همت، سخاوت او شجاعت د شهرت په وجه ورته د سلطان المعظم عبدالحمید خان صاحب دوم لۀ خوا د معین الاسلام امتیازي لقب او خطاب هم ورکړے شوے وۀ او خپله دغه وظیفه ئې په بریالیتوب تر سره کړې وه -

د نواب محمد شریف خان د اقتدار ټول دور د اندروني او بهروني سازشونو او بغاوتو په وجه په يو جنګي کشمکش کښې تېر شوے ولې خو هغوي بیا هم د ریاستي او انتظامي هلو ځلو سره داسې علمي او ادبي خدماتونه هم کړي دي چې په پښتو او پښتنو ئې احسان دے - په دې تحقيقي مقاله کښې به هغه علمي او ادبي آثارو تحقيقي جائزه وړاندې کولے شي چې د نواب محمد شریف خان په تحریک او مرسته لیکلے شوي، ژباړلے شوي او چاپ شوي دي - لۀ دې نه به د نواب محمد شریف خان د شخصي صفتوتو او انتظامي صلاحيتونو سره سره د هغوي د علم دوستۍ، ادب دوستۍ او کتاب دوستۍ څرګندونه هم اوشي -

## (۱) مناقبِ حضرت اخون الیاس رحمته الله علیه:

محمد شریف سواتي د نواب محمد شریف خان د دربار سره تړلے شاعر وۀ چې د کوزې بانډۍ سوات سره ئې علاقه لرله -[11] د رياستِ دير د نواب محمد شريف خان په تحريک محمد شريف سواتي د "مناقب اخون الیاس صاحب علیه الرحمه" په نوم د حضرت اخون الیاس نقشبندي رحمته الله علیه مناقب ليکلي دي چې په کال ۱۳۲۱هجري بمطابق ۱۹۰۳عيسوي کښې په مطبع فاروقي دهلي کښې په وړومبي ځل چاپ شوي دي -[12] په دويم ځل د راقم الحروف سعيد احمد ساحل د تفصيلي مقدمې او لغتنامې سره په کال ۲۰۲۳ء کښې د دير پښتو ادبي ټولنې لۀ خوا چاپ شوي دي -[13] قاضي عبدالحليم اثر افغاني په خپل کتاب "تېر هېر شاعران" د محمد شريف سواتي په حقله ليکلي دي چې:

> "محمد شريف د سوات د کوزې بانډۍ اوسېدونکے وۀ - د ديارلسمي صدۍ هجرۍ (۱۳۰۰) د وروستنۍ حصې پښتون شاعر وۀ او تر ۱۳۲۱ هجرۍ پورې ژوندے وۀ - د دۀ نوم او ذکر تر اوسه پورې د پښتو ژبې د ابیاتو په کومه تذکره یا تاريخ کښې نۀ دے راغلے - د سوات د يوسفزو په قبيلو کښې نيک بي خېل دوه تپې دي - (۱) عائشه خېل (۲) اباخېل - عائشه خېل په دره کښې آباد دي او اباخېل د سيند په غاړه په اواره علاقه پراته دي - محمد شريف په دې ابا خېل کښې د خدي خېل قبيلې وۀ - د ځوي يې نصري نوم وۀ چې هندوستان په بمبۍ کښې اوسېدۀ او هم هلته پاتې شۀ"-[14]

همېش خلیل په خپل کتاب "د قلم خاوندان" کښې د محمد شريف سواتي د زېږون کال ۱۸۴۱ء او د مړينې کال ۱۹۰۴ء ښودلے دے او د هغۀ په تصنيفاتو کښې ئې د مناقبِ حضرت

اخون الیاس نقشبندي رحمته الله علیه تذکره هم کړې ده -[15] قاضي عبدالحلیم اثر افغاني د محمد شریف سواتي د مناقبو د هېئت او ماهېئت په حقله وړاندې لیکلي دي چې:

"محمد شریف د مناقب اخون الیاس په نوم کتاب لیکلے دے چې په هغې کښې ځۀ مثنوي، یوولس قصیدې او دوه چاربیتې او یو مربع نظم دے - د اشعارو نه ئې داسې معلومېږي چې عوامي شاعر وۀ - علمي خوا ئې دومره اوچته نۀ وه - د قصیدو نه ئې په چاربیتو کښې رواني زیاته ده"-[16]

د محمد شریف سواتي تخلیق کړي دا مناقب د خپل قدامت او تاریخي موادو په اساس خپل ارزښت لري - دا مناقب په کال ۱۳۲۱هجري بمطابق ۱۹۰۳عیسوي کښې د نواب محمد شریف خان په ژوندانۀ چاپ شوي دي - د دې مجموعې سائز ۱۶ / ۲۶ سم او د مخونو شمېره ئې ۳۶ ده - د دې مجموعې په مخپاڼه داسې لیکل شوي دي چې:

"لاَ حَولَ وَ لاَ قُوَّۃَ اَلاّ بِا لله - الحمد لله چې په توفیق د پاک پروردګار په دې زمانه د عېش و عشرت اساس کښې "مناقب د اخون الیاس صاحب علیه الرحمته" تصنیف د شاعر دانا و ظریف محمد شریف ساکن کوزه بانډې علاقه سوات دَر مطبع فاروقي دهلي طبع ګردید"-[17]

په پښتو ادبیاتو کښې د مذهبي شاعرۍ په برخه کښې د منقبت پوره پنګه موجود ده - منقبت د عربۍ ژبې توروے دے چې مناقب ئې جمع ده - هغه شعري تخلیق چې پکښې د صحابه کرامو، صوفیانو، بزرګانو او نېکو خلقو مدح، مینه او صفت وي، هغې ته منقبت وئیلے شي - لکه د حمد او نعت ئې مخصوص هېئت نشته - شناخت ئې لۀ موضوع نه کېږي -[18] د پښتو ادبیاتو په دې برخه کښې د مناقبو یوه مجموعه د محمد شریف سواتي لیکلې "مناقب د حضرت اخون الیاس صاحب علیه الرحمه" هم ده چې د نواب محمد شریف خان د تحریک لاندې تخلیق شوې ده - دا د نواب محمد شریف خان لویه کارنامه ده چې دا تاریخي او ادبي فنپاره ئې د پښتو ادبي نړۍ ته سپارلې ده - د دې ادبي فنپارې په حقله راقم الحروف لیکلي دي:

"محمد شریف سواتي دا مناقب د خپل قدامت په اساس خپل ارزښت لري - په دې مناقبو کښې د حضرت اخون الیاس نقشبندي رحمته الله علیه د ژوند د واقعاتو، روحاني اسفارو، علمي مشاغلو او معاصر شخصیاتو په حقله ګڼ شمېر معلومات په لاس راځي - په دې مجموعه کښې کُل نولس مناقب شامل دي چې په مختلفو منظوم هېئتونو کښې لیکلے شوي دي - په دې کښې یوولس مناقب د غزل

په هېئت کښې ليکلے شوي دي، څلور مناقب د مثنوي په هېئت کښې ليکلے شوي دي، دوه مناقب د مربع نظم په هېئت کښې ليکلے شوي دي، يو منقبت د مثلث نظم په هېئت کښې ليکلے شوے دے او يو منقبت د چاربېتې په هېئت کښې ليکلے شوے دے- په دې مناقبو کښې ځاے په ځاے د قصيدې رنګ هم دا سې په نظر راځي چې د قصيدې د ارکانو باقاعده تعيّن ئې کېدے شي"-[19]

د دې مجموعې آغاز د حمديه کلام نه شوے دے چې د غزل په هېئت کښې ليکلے شوے دے- د دې حمديه کلام شعرونه څۀ په دې ډول دي:

ابتــــدا کـــړم پــــه نامـــــه د پـــــاک غفّـــــار
د کامــــــل قـــــدرت خاونــــد دے کردګـــــار
شـــريک نــۀ لــري پــه خپلــه بادشــاهۍ کښــې
بـــــل موصــــوف دے پــــه ښــــۀ اســــم د ســــتّار
چـــې اســــمان ئــې بــې ســتونه معلّــق کــړۀ
تــــل بــــه ئــې زۀ ثنــاء صــفت کــړم پــه بــار بــار
کـــل جهـــان ئـــې پـــه دائـــره د قـــدرت بنـــد دے
مســـــتجاب ئـــې هـــر حاجـــت دے پــــه دربـــار
زۀ عــــاجز محمـــد شـــريف ئـــې امېـــدوار يـــم
پــــه آخــــر کـــۀ را لــــه راکــــړي خپــــل ديــــدار[20]

محمد شريف سواتي په دې مجموعه کښې د نورو ډېرو تاريخي شخصياتو سره د رياستِ دير د نواب محمد شريف خان د شخصي او انتظامي صلاحيتونو ستائينه هم ډېره په زور او شور سره کړې ده- دغه شان ئې لۀ دې لاندې شعرونو نه دا هم ظاهرېږي چې دا مجموعه د نواب محمد شريف خان په تحريک ليکلې شوې او چاپ شوې ده:

مصـــنّف چـــې تصـــنيف کـــړي هـــر يـــو کتـــاب
وي پــــه هغــــه زمانــــه کښــــې يــــو اربــــاب
دے د هغــــــه زمــــــانې د حـــــاکم ډېـــــر
صــــفتونه پــــه کتــــاب کښــــې کــــړي برســــېر
زمانــــه زمــــا کښــــې شــــۀ نــــواب د ديــــر

چلـــوي هـــر يـــو قـــانون د عـــالمګير
کـــۀ تمـــام عمـــر لګيـــا ئـــې پـــه صـــفت يـــم
د لائـــق صـــفت د دۀ نـــه ناطاقـــت يـــم[21]

په دې مجموعه کښې د دير د سيمې نه علاوه د نورو سيمو او ملکونه تذکره هم شوې ده - دغه شان د حضرت اخون الياس نقشبندي رحمته الله عليه او نواب محمد شريف خان نه علاوه پکښې د نورو تاريخي شخصياتو تذکره هم شوې ده - په دې مناقبو کښې فني کمزورۍ هم ځا ے په ځا ے په نظر راځي - د دې مناقبو نه داسې څرګنديږي چې د دې ليکوال محمد شريف سواتي يو عوامي او اولسي شاعر وۀ ځکه چې په شاعرۍ کښې علمي رنګ په نظر نۀ راځي - دغه شان شاعري ئې په فني محاسنو هم سينګار نۀ ده بلکې فني معائبو ئې ځا ے په ځا ے د شاعرۍ خوند او رنګ پيکه کړے دے - د دې هر څۀ باوجود د دې مجموعې اهميت د خپل قدامت په حواله ښکاره دے او د پښتو په ادبي پنګه کښې يوه غوره اضافه ده - دغه شان دا د نواب محمد شريف خان يو داسې علمي او ادبي خدمت دے چې د پښتو منقبت په برخه کښې ئې پرې د پښتو ادبي پنګه درنه کړې ده -

(۲) شاهنامه فردوسي (پښتو ژباړه):

"شاهنامه فردوسي" د فارسۍ ژبې د لوے شاعر فردوسي طوسي يوه داسې ادبي فنپاره ده چې د يو ادبي شاهکار حېثيت لري - د دې ادبي شاهکار پښتو منظوم ژباړه مولوي محمد رفيق د رياستِ دير د نواب محمد شريف خان په فرمائش کړې ده چې لويه کارنامه او پښتو ادب ته لويه بخښنه ده - مولوي محمد رفيق په کال ۱۸۴۵ء شاؤ خوا کښې د عبدالمجيد خان په کالۀ اکبر پوره نوښار کښې زېږېدلے وۀ او په ۲۷ جولائي کال ۱۹۰۱ء کښې ئې لۀ دې دنيا څخه سترګې پټې کړې دي -[22]، ولې خو قمر راهي ئې د مړينې نېټه اګست کال ۱۹۰۱ء ښائي -[23] مولوي محمد رفيق چې د شاهنامه فردوسي کومه پښتو منظوم ژباړه کړې وه نو هغه لۀ بده مرغه په بشپړه صورت موجود نشته بلکې څۀ برخه ئې د پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون په قلمي نسخو کښې پرته ده - پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ته د شاهنامه فردوسي دا نيمګړې قلمي نسخه د ډېره اسماعيل خان نه تر لاسه شوې ده -[24] قمر راهي د مولوي محمد رفيق د پېژندګلو په ضمن کښې د شاهنامه فردوسي د دې پښتو منظومې ژباړې په حقله يو ځا ے ليکلي دي چې:

"د فردوسي شاهنامه ئې په پښتو نظم کښې ترجمه کړې وه - د شاهنامې شپېتۀ زره شعرونه ئې په دېرش زره شعرونو کښې منتقل کړي وو - دغه شاهنامه غالبا اوس په دير کښې ده"-[25]

همېش خليل هم د مولوي محمد رفيق په تصنيفاتو کښې د شاهنامه فردوسي د پښتو منظومې ژباړې تذکره داسې کړې ده چې:

"شاهنامه د فارسۍ نه په پښتو منظومه ترجمه، دېرش زره اشعار د نواب محمد شريف دير د پاره ليکلې شوې وه - وروستو بيا نواب اورنگ زېب تلف کړه"-[26]

قمر راهي د شاهنامه فردوسي د دې بشپړه منظومې ژباړې په حقله دا ګمان لري چې په رياستِ دير کښې شتون لري - همېش خليل دا ګمان ظاهر کړے دے چې نواب محمد اورنګزېب خان تلف کړې ده او مراد شينواري دا امکان ظاهر کړے دے چې کېدے شي د دې نورې برخې د رياستِ دير په کتب خانو يا ذخيرو کښې محفوظ وي - خو متاسفانه چې د مولوي محمد رفيق دا ژباړه په بشپړه صورت نۀ ترلاسه کيږي او نۀ ئې څۀ درک لګي - وخت په وخت دا علمي او ادبي اثار ضائع شوي دي يا ضائع کړے شوي دي - په شاهي دربار کښې وخت په وخت د اور لګېدلو واقعات هم مخې ته راغلي دي چې په نتيجه کښې ئې د ضروري ريکارډ سره سره دا قيمتي آثار هم لۀ مېنځه تلي دي - لکه د نواب محمد شاه جهان خان د پوليټيکل ايجنټ په نوم د ۳۰ اکتوبر کال ۱۹۳۵ء د يو خفيه دستاوېز نه داسې معلوميږي:

"On the night between 27/28th October 1935, Monday night at 9:15 p.m. a tremendous fire broke out inside my Darbar’s building at Dir, and in a very short space of time the fire was such highly ablazed that all the building iside the Darbar and bungalows outside the Darbar, with his household property were burnt to ashes. By the grace of Good no life was lost in such a tremendous fire".[27]

ژباړه: د ۲۷ او ۲۸ اکتوبر ۱۹۳۵ء تر مېنځه د دوشنبې په شپه پاؤ باندې نهه بجې په دير کښې زما د دربار په ودانۍ کښې ډېر زيات اوور ولګېدۀ او په ډېر لږ وخت کښې دا اوور دومره خور شۀ چې د دربار نه بهر ټولې ودانۍ، بنګلې او د کور ټول مالونه پکښې وسوځېدل - د خدا ے په فضل په داسې سخت اوور کښې هيڅ قسمه جاني نقصان او نۀ شۀ -

په پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون کښې موجوده د شاهنامه فردوسي دا قلمي نسخه ناقص الاول او ناقص الاخر ده او د صفحو په ځا ے پرې رکابونه لګېدلي دي - په کچه پېنسل په

دستیاب قلمي نسخې از سر نو د صفحو نمبري ورکړے شوي دي چې د ۰۱ نه شروع کېږي او په ۴۲۹ پائې ته رسي - د ناقص الاول او ناقص الاخر په وجه د دې قلمي نسخې د کاتب، د کتابت د کال او د کتابت د ځاے څۀ معلومات نۀ ترلاسه کیږي - دغه شان دا معلومات هم نۀ ترلاسه کیږي چې دا د چا په فرمائش پښتو ته وژباړلې شوه - دا یقیني ده چې د دې قلمي نسخې په اغاز یا اختتام کښې به د دې تذکره ضرور شوې وه ولې خو لۀ بده مرغه ضائع شوې ده - غالب ګمان دے چې د دې کتابت به مولوي محمد رفیق پخپله کړے وي ځکه چې هغۀ پخپله د ښۀ شاعر سره یو ښۀ خوشنویس هم وۀ - د شاد محمد خان د دیوان او دبیر دانش کتابت هم مولوي محمد رفیق کړے وۀ او د عبدالودود استاذ او ګل دراز استاذ غوندې خوشنویسیان پښتنو ته هم د مولوي محمد رفیق ورکړه ده -[28]

دا قلمي نسخه چې په خط نسخ کښې لیکلې شوې ده، په ۳۶۹ نمبر خوندي ده او په سر ئې په بدل خط کښې داسې لیک دي چې: پشتو ترجمه شاهنامه فردوسي از ملا محمد رفیق - په دې قلمي نسخه د پښتو اکېډیمي لائیبریري پېښور پوهنتون ګول مهر لګېدلے دے چې په مېنځ کښې ئې د ۳۶۹ نمبر نه لاندې د ۲۹ اپرېل ۱۹۶۲ء نېټه هم لیک ده - د کتاب سائز تقریبا ۲۰/ ۳۲ سم او د متن سائز تقریبا ۲۴/۱۴ سم دے - هره صفحه په دوه کالمي طرز کښې لیکلې شوې ده چې پینځلس کرښې لري - زیړېخن کاغذ لري او لیکل ئې په توره سیاهي شوي دي البته عناوین ئې په سرۀ سیاهي په فارسي کښې هو بهو لیکل شوي دي - د دې قلمي نسخې په حقله "مخطوطات پشتو اکیډیمي" کښې داسې لیک دي:

"ملا محمد رفیق پشتو کے فولکلوری شاعر ہیں۔ اس نے فردوسی کے شہرہ افاق کتاب "شاہنامہ" کے کچھ حصوں کو پشتو میں ڈھالا ہے۔ یہ معرکتہ الآرا کتاب ہے فردوسی نے سلطان محمود غزنوی کے لیے لکھی تھی۔ ملا محمد رفیق کا ترجمہ عمدہ ہے۔ شاہنامہ مشکل فارسی اشعار پر مشتمل ہے اور اس کا ترجمہ ایک ایسا شخص ہی کر سکتا ہے جس کو فارسی زبان پر پورا عبور حاصل ہو۔ محمد رفیق نے قواعد القران کی کتاب علم قرات میں پشتو نظم (مثنوی) میں لکھی جو کہ کسی ہندی کتاب کا ترجمہ ہے"۔[29]

ژباړه: مولوي محمد رفیق د پښتو اولسي شاعر دے - هغۀ د فردوسي د مشهور کتاب "شاهنامه" څۀ برخې پښتو ته ژباړلې دي - دا فردوسي د سلطان محمود غزنوي د پاره لیکلے وۀ - د مولوي محمد رفیق ژباړه ښه ده - شاهنامه په ګرانو فارسي شعرونو باندې اړتیا لري او د دې ژباړه هغه څوک کولے شي چې په فارسي

ژبه پوره عبور لري - مولوي محمد رفيق د قواعدالقران د علم قرات كتاب په پښتو مثنوي نظم كښې ليكلے دے، كومه چې د هندي كتاب ژباړه ده -

د دې ناقص الاول قلمي نسخې آغاز د شاهنامه فردوسي د دويم جلد د فصل "فرستاون كيخسرو رستم رابياري طوس و ايرانيان"[30] د ترجمې نۀ شوے دے - د دې فصل د اخري برخې د ترجمې دوه شعرونه د دې ناقص الاول قلمي نسخې په شروع كښې راغلي دي او بيا د ورپسې فصل "بزني گرفتن فريبرز فرنگيس مادر كيخسرو را" نه د دې قلمي نسخې آغاز داسې شوے دے:

رستم دا گفتار وَ شاه وَ ته وئيلے
اووې شاه زۀ پرې فرمان نۀ شم كولے
زۀ چې ورشو مونږه دواړه هر چې وائي
در معلومه به د دې هغه رضا ئي
فرنگيس ته كيخسرو او رستم دواړه
په دا سوال شو سره كېښناسته هم غاړه[31]

د دويم جلد د دې برخې نه دا ترجمه د دريم جلد د فصل "شبخون زدن شاپور و گرفتار شدن قيصر"[32] پورې دوام لري او وړاندې د دريم جلد د څۀ برخې ترجمه او د څلورم جلد ترجمه لۀ مېنځه تلې ده - د دې ناقص الاخر قلمي نسخې اختتام په دې شعرونو شوے دے:

په دا جنگ كښې روميان مړۀ شو بې حسابه
خو اخر په تېښته لاړه لۀ شتابه
په هامون كښې ورك سپاه او چليپا شو
په قلعه كښې ورك صليب او سكوبا شو
ځاے په ځاے كښې خزانې شوې لۀ دوي پاتې
چې لۀ بار د بارگيريو شولے زياتې
دغه گنج شاه پور بخشش كړۀ په سپاه
چې زينت يې وۀ د تاج او د تختگاه[33]

قمر راهي د شاهنامه فردوسي د پښتو منظومې ژباړې په شاليد او په دې لويه کارنامه د رياستِ دير د نواب محمد شريف خان په کردار داسې رڼا غورځوي:

"د دير نواب خان بهادر محمد ابراهيم خان له په مېلمستيا مردان ته راغلے وۀ او دلته ورسره د محمد رفيق استاد ليدل کتل شوي وو - د نواب صاحب په فرمائش محمد رفيق استاد د فردوسي شاهنامه په پښتو نظم کښې په يو کال کښې ترجمه کړې وه - سلطان محمد خان خټک وائي چې دغه شاهنامه د هغوي په مخکښې ترجمه شوې او ليکلې شوې ده - - - دغه شاهنامه چې تياره شوه نو محمد رفيق صاحب دير ته د تلو تکل کوۀ چې هغۀ ناروغه شۀ او يو څو ورځو کښې دومره زيات بيمار شۀ چې خپل شاګرد عبدالمنان زاخېلو ته په کټ کښې يوړو او هم هلته وفات شۀ - جنازه يې خپلوانو اکبرپورې ته يوړه او هغلته ئې ښخ کړۀ او دغسې لکه د فردوسي د شاهنامې د انعام نه محروم پاتې شۀ - د محمد رفيق استاد شاګرد عبدالمنان صاحب د زاخېلو دغه شاهنامه د دير نواب صاحب له يوړه - وائي چې هغوي ورله پينځه زره روپۍ انعام ورکړې ولې عجيبه اتفاق دا دے چې دغه انعام د هغۀ هم روزي نۀ شۀ - په لار کښې پرې شپه راغله او دغه رقم ترې غلو ووهلو".[34]

قمر راهي د شاهنامه فردوسي پښتو منظوم ژباړه د نواب محمد شريف خان د خواهش او تحريک نتيجه ګڼي - ولې خو ډاکټر راجولي شاه خټک په خپله پي - ايچ - ډي مقاله "د پښتو ادبي تحريکونه" کښې په پښتو نظم او نثر کښې د رومانوي ادب د ترجمې د دور په حقله يو ځاے ليکلي دي چې:

"د دې تحريک په کسانو کښې چې کوم مشهور نومونه مخې ته راځي، هغه مسعود ، غلام محمد ، محمود رفيق (دا اصل کښې محمد رفيق دے چې ډاکټر راج ولي شاه خټک سهواً محمود رفيق ليکلے دے)، طالب رشيد وغيره دي".[35]

بيا ډاکټر راجولي شاه خټک په حاشيه باندې د محمود رفيق (محمد رفيق) په حلقه وړاندې داسې ليکلي دي چې:

"د محمود رفيق (محمد رفيق) د ژوند حالات معلوم نۀ دي - وائي چې دے د اکبر پورې اوسېدونکے وۀ او د مردان د خان شاد محمد خان او محمد شريف خان، خان آف دير په وېنا ئې د شاهنامه فردوسي په پښتو مثنوي کښې ترجمه کړې ده - د

دغه ترجمې څۀ حصه د پښتو اکېډمۍ په قلمي نسخو کښې په یو جلد کښې محفوظه ده - دے د ترجمې د تحریک کلک غړے پاتې شوے دے"-[36]

د ډاکټر راج ولي شاه خټک لۀ دې اقتباس نه داسې څرګندیږي چې د دې ترجمې په تحریک کښې د نواب محمد شریف خان سره خان شاد محمد خان هم شامل وۀ - سید خیال بخاري هم د شاد محمد خان د دیوان په مقدمه کښې په دې حقله داسې لیکلي دي چې:

"د محمد رفیق استاد یوه لویه کارنامه د فردوسي د شاهنامې پښتو ترجمه ده - دا د پښتو د نورو ترجمو په شان تشه ترجمه نۀ ده بلکې د ډېرې اوچتې پائې شاعري ده - دا ترجمه هغۀ د "خان مرحوم" (شاد محمد خان) او د دیر د هغې وخت نواب محمد شریف خان په فرمائش کړې ده"-[37]

ولې خو سید خیال بخاري د پښتو ادب د دریم دور په حقله په خپله یوه مقاله کښې د مولوي محمد رفیق متعلق لیکلي دي چې د شاهنامه فردوسي پښتو منظومه ژباړه ئې د ریاستِ دیر د نواب محمد شریف خان په تحریک کړې وه - دلته ئې په دې کارنامه کښې د نواب محمد شریف خان سره د خان شاد محمد خان تذکره نۀ ده کړې - سید خیال بخاري لیکي:

"ان کا ایک قابل قدر اور اہم ترین کارنامہ شاہنامہ فردوسی کا پشتو منظوم ترجمہ ہے۔ جو انہوں نے نواب دیر کی فرمائش پر کیا ہے۔ عجب اتفاق ہے کہ شاہنامہ کے اس مترجم کا انجام بھی کچھ ایسا ہی ہوا جو فردوسی کا ہوا تھا۔ کہتے ہیں نواب دیر نے اپنی فرمائش کے ساتھ اسے ایک روپیہ فی شعر انعام دینے کا وعدہ کیا تھا۔ جب ترجمہ مکمل ہو گیا اور انعام لینے کا وقت آیا تو آپ فوت ہو گئے"۔[38]

ژباړه: د دوي د قدر وړ او اهمه کارنامه د شاهنامه فردوسي پښتو منظوم ژباړه ده، کومه چې هغوي د دیر د نواب په فرمائش کړې ده - عجیبه اتفاق دے چې د شاهنامه د دې ژباړن انجام هم هغه شان وشۀ، کوم چې د فردوسي شوے وۀ - وئیلے شي چې د دیر نواب د خپل فرمائش سره سم د یو شعر په سر د یوې روپۍ انعام وعده کړې وه ولې خو چې کله ژباړه پوره شوه او د انعام وخت راغلو نو لۀ دې دنیا څخه ئې سترګې پټې کړې -

د دې قضیې تصفیه سر محقق زلمے هېواد مل د مولوي محمد رفیق د دیوان "شمس الفلک" په مقدمه داسې کړې ده چې:

"د محمد رفيق استاد لۀ ډېرو مهمو کارونو څخه يو اهم د فردوسي طوسي د شاهنامې پښتو ترجمه ده - د دې ترجمې په خصوص کښې د ښاغلي قمر راهي بيان ځينې ښې خبرې لري چې د بحث د بشپړتابه په مراتبو کښې د استفادې وړ دي - - - په دې ځاے کښې د ښاغلي راهي او اروانښاد خيال بخاري دواړو په بيانونو کښې لۀ يو څۀ تضاد سره مخ کېږو او هغۀ دا چې راهي وئيلي دي چې محمد رفيق دا ترجمه په يو کال کښې بشپړه کړه او لۀ بشپړېدو سره سم وفات شۀ - څنګه چې محمد رفيق د ۱۹۰۱ء کال په اګست کښې وفات شوے دے نو دا ترجمه يې بايد همدې بيان مطابق د ۱۹۰۰ء په جون يا جولائي کښې پيل کړې وي - حال دا دے چې شاد محمد خان د ۱۸۹۹ء کال په دسمبر کښې وفات شوے دے - نو په دۀ حساب د شاهنامې د پښتو ترجمې تر فرمائش او د ترجمې تر پيل شپږ اووۀ مياشتې د مخه شاد محمد خان وفات شوے وۀ - نو څنګه کېدے شي چې محمد رفيق ته دې د شاهنامې د ترجمې فرمائش کښې له نواب سره شاد محمد خان هم شريک شوے وي"-[39]

لۀ دې نه څرګنده شوه چې د شاهنامه فردوسي پښتو کښې منظومه ژباړه د رياستِ دير د نواب محمد شريف خان په فرمائش او تحريک باندې شوې وه چې هغوي ئې باقاعده معاوضه هم ادا کړې ده - دلته يواځې د نواب محمد شريف خان لۀ خوا د معاوضې ادائيګي هم په دې خبره دلالت کوي چې د شاهنامه فردوسي دا ژباړه يواځې هم د هغوي په فرمائش او تحريک شوې ده - لۀ دې نه د هغوي د علم دوستۍ، کتاب دوستۍ او ادب دوستۍ سره سره د خپلې ژبې او ادب سره د مينې اندازه هم په اسانه کېدے شي - دغه شان دا د نواب محمد شريف خان يو داسې علمي او ادبي خدمت هم دے چې د پښتو منظومې ژباړې په برخه کښې ئې د پښتو ادبي پنګې ته دا ناوياته فنپاره سپارلې ده -

### (۳) تهذيب الاسلام معروف تحفه شريفيه:

"تهذيب الاسلام معروف تحفه شريفيه" د قاضي عرفان الدين ډېر علمي او قيمتي اثر دے چې د په عربۍ ژبه ليکلے شوے دے - قاضي عرفان الدين په کال ۱۲۸۶هجري بمطابق ۱۸۷۰عيسوي د قاضي محمد معصوم په کالۀ بټخېله کښې زېږېدلے وۀ - د فراغت نه وروستو د درس و تدريس سره وابسطه شۀ او په کال ۱۳۱۵هجري بمطابق ۱۸۹۸عيسوي کښې د رياست

دیر او بیا د ریاستِ سوات قاضي هم مقرر شۀ - د ګڼ شمېر علمي، تاریخي او ادبي کتابونه ئې لۀ قلمه وتلي دي چې علمي رتبه ئې په ډاګه کوي - په کال ۱۳۴۵هجري بمطابق ۱۹۲۷عیسوي کښې ئې لۀ دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د بټخېلې په لویه هدیره کښې خاؤرو ته وسپارلے شۀ -[40] د قاضي عرفان الدین په علمي آثارو کښې یو "تهذیب الاسلام معروف تحفه شریفیه" دے چې د ریاستِ دیر د نواب محمد شریف خان لۀ خوا په کال ۱۳۲۱هجري بمطابق ۱۹۰۳عیسوي کښې په مطبع مصطفائي لاهور کښې چاپ شوے او في سبیل الله تقسیم کړے شوے هم دے - د دې علمي اثر معروف نوم هم د نواب محمد شریف خان د نوم په مناسبت سره "تحفه شریفیه" غوره کړے شوے دے - قاضي عرفان الدین د ریاستِ دیر د دربار سره تړلے قاضي وۀ چې د علمي او شرعي خدماتو د منتظم ذمه وارۍ ئې په غاړه وې او هم د دې په نتیجه کښې ئې د "تهذیب الاسلام معروف تحفه شریفیه" غوندې علمي اثر لۀ قلمه وتلے دے -[41] قاضي عرفان الدین په خپل قلمي کتاب "بدر منیر در احوال دولت دیر معروف تذکره محمد اورنګ زېبیه" کښې د نواب محمد شریف خان د پېژندګلو په ضمن کښې د هغوي په خدماتو هم رڼا غورځولې ده - د "ایجادات این والي مرحوم" د عنوان لاندې د هغوي د نورو ډېرو خدماتو سره ئې د دې علمي اثر د اشاعت متعلق دا هم لیکلي دي چې:

> "تصنیف شدن کتاب تهذیب الاسلام در تنقیح عقائد اسلام و ادیان باطله بتوجه او و طبع کردن آن بخرچ کثیر وقف فی سبیل الله یادگار"۔[42]

> ژباړه: د هغۀ (نواب محمد شریف خان) په خواهش د عقائدِ اسلام په حقانیت او د ادیانِ باطله په ردّ کښې "تهذیب الاسلام" نومې کتاب منظرِ عام ته راغلو چې ډېره مالي پنګه پرې ولګېده او في سبیل الله د یادګار په توګه وقف کړے شۀ -

د دې علمي اثر په مخپانه د لیکلے شوي عبارت نه د دې کتاب د موضوعاتو او نواب محمد شریف خان د علم دوستۍ او کتاب دوستۍ اندازه هم په اسانه کېدے شي - دغه شان دا عبارت دا هم څرګندوي چې د دې علمي اثر په شا د نواب محمد شریف خان ایماء، خواهش او تحریک هم کار فرما دے:

> "من یهدی الله فهو المهتد، الحمد لله والمنة که کتاب هدایه انتساب حاوی قواعد دین متین جامع عقائد ملت سید المرسلین قالع خرافات ادیان باطله قامع خیالات مذاهب عاطله المسمے به تهذیب الاسلام المعروف بالتحفة الشریفیة

از تالیف منیف عالم نبیل فاضل جلیل جناب مولنٰا مولوی قاضی عرفان الدین صاحب ساکن بٹخیلہ علاقہ صوات حسب ایمائے نواب معلٰی لقاب محمد شریف خان صاحب والئے ریاست دیر وصوات"۔[43]

ژباړه: الله تعالي چې چاته هدايت وکړي نو هم هغه په سمه لار وي - دا چې منسوب کتاب کښې د دينِ متين د قواعدو او د سيد المرسلين د ملت د جامع عقائدو احاطه شوې ده - د باطل مذهبونو د خرافاتو او تصوراتو قلع قمع پکښې شوې ده - د دې کتاب نوم تهذيب الاسلام چې په تحفه شريفيه معروف دے، د علاقه سوات د بټخېلې د منيف عالمِ نبيل او فاضلِ جليل جناب مولوي قاضي عرفان الدين صاحب تاليف دے - دا د رياستِ دير او سوات د نواب اعليحضرت محمد شريف خان صاحب په خواهش سره ترسره شوَ -

د دې علمي اثر په ابتداء کښې د نواب محمد شريف خان په عربئ کښې ليکلے مختصر تقريظ هم شامل دے چې د ليکلو نېټه ئې ۱۷ جمادي الاول ۱۳۲۰هجري ده - دا مختصر تقريظ د عالمانو سره د هغوي عقيدت او په عربئ ژبه عبور هم ثرګندوي - دغه شان دا مختصر تقريظ د نواب محمد شريف يوه داسې تحرير هم دے چې د نمونې په توګه ئې په لاس کښې لرو:

"نحمده و نصلّی و نسلّم علی رسوله الکریم۔ اما بعد فقد جاءنا العالم الفاضل المسمی بعرفان الدین المشهور بقاضی صاحب بٹخیله الکامل فی العلوم الدینیة الراسخ فی الفنون الکلیة بکتاب غریب صنفه لاحاطة المسائل الدینیة الضروریة و ایضا لاجتماع العقائد الاسلامیة و القواعد اللتی یظهر بها بطلان عقائد الفرق المخالفة و سماه "تهذیب الاسلام" اشارة الٰی مادة التاریخ تصنیفه و لقبه بالتحفة الشریفیة رمزا لاسمنا و حوما لفرضنا فلاحظتا مضامینه و طالعنا مقاصده فجاء بحمد الله تعالی موافقا لاسمه مطابقا لرسمه و اجنباه حق الاجابته و قصدنا لفرض الاشاعته و تعمیر الاقادة اطباعها بصرف مبلغٍ کثیرٍ حسبةً لله تعالی فالمامول من المستفیدین بهذا الکتاب ان لاّ ینسونی فی دعائهم الستجاب۔ حرّره فی التاریخ ١٧ جمادی الاول ١٣٢٠ هجری۔ الراقم محب العلماء محمد شریف خان نواب دیر و صوات"۔[44]

ژباړه: د حمد و ثناء او درود و سلام نه وروستو! دا چې عالم او فاضل عرفان الدين چې په قاضي صاحب بټخېله هم مشهور دے او د ديني علومو او فنونو

ماهر دے، یو داسې عجیبه او حېران کن کتاب راؤړاندې کړۀ چې کلي اسلامي عقائد پکښې راجمع دي او د نورو عقائدو د بطلان نخښې په ګوته کوي او دې له ئې د "تهذیب الاسلام" نامه ورکړې ده چې د تصنیف د تاریخ مادې ته اشاره کوي- مصنف دا په "تحفه شریفیه" ملقب کړے دے چې زمونږ نامې پله اشاره لري او زمونږ د منصب لحاظ ئې ساتلے دے- مونږ چې د دې مضامین ولوستل او د دې د مقاصدو مطالعه مو وکړه نو دا مو الحمد لله د موضوع سره موافق او د رواج سره مطابق ومونډل- لۀ دې نه وروستو مونږ د مطالبې کوټلے جواب وړاندې کړۀ او الله تعالي د رضا د پاره مو د دې په اشاعت او د افادۀ عام د پاره د دې په طباعت د لويې پنګې لګولو قصد وکړۀ- په دې اساس لۀ دې تصنیف څخه د استفاده کوونکیو نه قوي طمعه ده چې هغوي به په مستجاب دعاګانو کښې مونږ نۀ هېروي- د لیکلو نېټه ۱۷ جمادي الاول ۱۳۲۰هجري، لیکونکے د عالمانو مینوال محمد شریف خان نواب دیر و صوات-

دا علمي اثر یوه مفصله تمهیدي خطبه لري چې د دې علمي اثر د مندرجاتو یوه اجمالي خاکه او د نواب محمد شریف خان مدحه پکښې بیان شوې ده- دا علمي اثر په یوه مقدمه، دوه مقالاتو او یوه خاتمه کښې تقسیم شوے دے چې ذیلي فصول او عناوین هم لري- مقدمه په دوه تفصیلي بابونو مشتمل ده چې د ایمان او کفر مباحث پکښې د عقلي او نقلي دلائلو په رڼا کښې څېړلے شوي دي- د دې مقدمې په وړومبي باب کښې د ایمانیاتو او په دویم باب کښې د کفریاتو سره متعلقه ګڼ شمېر مباحث د قران و حدیث په رڼا کښې ډېر په علمي، منطقي، کلامي او فلسفیانه انداز کښې د بحث موضوع ګرځولے شوي دي- د دې علمي اثر وړومبۍ مقاله د اسلام په حقانیت لیکلې شوې ده چې په څلورو بابونو کښې تقسیم کړې شوې ده- په وړومبي باب کښې په توحید، په دویم باب کښې په رسالت، په دریم باب کښې په صحابه و تابعین او په څلورم باب کښې په مذهب ډېر په علمي او کلامي انداز کښې بحث شوے دے او د معترضینو مدلل جوابونه شوي دي- د دې علمي اثر دویمه مقاله د مخالفینِ اسلام په ردّ کښې لیکلې شوې ده چې په څلورو بابونو اړتیا لري- په وړومبي باب کښې په هنودو، په دویم باب کښې په یهود و نصاریٰ، په دریم باب کښې په اهل تشیع او په څلورم باب کښې په غېر مقلدینو ډېر په علمي انداز کښې ردّ شوے دے- د دې علمي اثر خاتمه هم په څلورو بابونو کښې تقسیم کړې شوې ده- د دې خاتمې په وړومبي باب کښې د هغه زمانې د علماؤ اختلافي مسائل، په دویم باب کښې د

هغه زماني حوادث، په دريم باب کښې د عبدالغفور باباجي احوال او په څلورم باب کښې د ليکوال احوال بيان شوي دي -د دې علمي اثر په پائې کښې د عبدالغفور المعروف سيدو باباجي د نبيره ګانو يعني نمسو سيد بادشاه او ګل شهزاده تصديق او تائيد هم د "اعلان" په صورت کښې داسې ثبت شوے دے:

"از طرف مياں ګلان صاحبان نبيرګان اخوند صاحب سيدو شريف اينکه اين کتاب تهذيب الاسلام معروف به تحفه شريفيه از تاليف قاضي عرفان الدين صاحب بٹخيله در اثبات عقائد اسلاميه اهل سنت و جماعت و تقرير و اصول و فروع مذهب حنفي سندی است کامل و براے رد و ابطال اديان باطله و مذاهب مخالفه شرع محمدی حجتے است شامل، لهذا از علماے اسلام التماس است که کتاب مذکور را دستور العمل ساخته در باب افاده و استفاده ازين کتاب کارګذاری نمايند- فقط والسلام علی اهل الاسلام"-[45]

ژباړه: د سيدو باباجي د نبيره ګانو مياګلانو صاحبانو لۀ خوا: دا کتاب تهذيب الاسلام معروف په تحفه شريفيه چې د بټخېلې د قاضي عرفان الدين صاحب تاليف دے، دا تاليف د اهل سنت والجماعت د اسلامي عقائدو د اثبات او د حنفي مذهب د اصول و فروع په بابله مستند کتاب دے - د شريعتِ محمدي خلاف د اديانِ باطله او مذاهبِ مخالفه په ردّ کښې يو بشپړ سند دے - په دې اساس د علماء اسلام نه دا غوښتنه ده چې لۀ دې کتاب څخه د يو لارښود او دستورالعمل په حېث په متعلقه باب کښې فائده او استفاده وکړي-

دا د نواب محمد شريف خان يوه لويه علمي کارنامه ده چې د "تهذيب الاسلام معروف تحفه شريفيه" غوندې علمي اثر ئې منظر عام ته راوړے دے - دا د هغوي يو داسې علمي، ديني او مذهبي خدمت هم دے چې د اسلام د حقانيت سره د کفر بطلان هم کوي - منکرينو او متعرضينو ته مسکت جوابونه هم ورکوي او د هغوي د اشکالاتو ازاله هم کوي - دغه شان په دې کښې د عبدالغفور المعروف سيدو باباجي د حالاتو سره د هغه زمانې حالات او واقعات هم درج دي چې تاريخي اهميت ئې واضحه دے-

(۴) صحيفه زرين جلد اول و دوم:

"صحيفه زرين" د ملک معظم ايډورډ هفتم قېصر هند د جشن تاجپوشۍ په وياړ چاپ شوے يو تاريخي دستاوېز دے چې مولف ئې پراګ نرائن بهارګو دے - دا تاريخي دستاوېز په دوه برخو

کښې په کال ۱۹۰۲ء کښې د مطبع منشي نول کشور لکهنو لۀ خوا چاپ شوې دے - په دې تاريخي دستاوېز کښې د هندوستان د ټولو صوبه جاتو، مضافاتو او ملحقاتو د واليانو، رئيسانو، خطاب يافتګانو، مشاهيرو او نومورِي مشرانو خانداني او ذاتي حالات هم درج دي - په دې تاريخي دستاوېز کښې چې د معاونينو کوم فهرست د منښې سره ورکړے شوے نو په هغې کښې د نواب محمد شريف خان نوم د ټولو نه په سَر کښې ورکړے شوے دے چې د هغوي د فياضۍ، علم دوستۍ او کتاب دوستۍ ځرګندونه ترې کيږي -[46] د دې تاريخي دستاوېز په مخپاڼه داسې ليکلے شوي دي:

"بياد گار جشن جلوس ميمنت مانوس و دربار دُربار تاجپوشي اعلی حضرت قوی شوکت ملک معظم ايڈورڈ ہفتم قيصر ہند خلد اللہ ملکہم و دام دولتہم جس ميں قلمرو ہندوستان کے تمام صوبہ جات مضافات و ملحقات کے واليان ملک روسا کبار خطاب يافتگان عالی تبار مشاہير نامدار و برزگان ذی اقتدار کے خاندانی اور ذاتی سوانح و حالات اور تصاوير و مرقعجات مندرج و مندمج ہيں"۔[47]

ژباړه: د لوے شان و شوکت د خاوند، د قېصرِ هند اعليحضرت ايډورډ اووم د جشن تاجپوشي د يادګاري جلوس په وياړ، چې د هندوستان د ټولو صوبو، مضافاتو او ملحقاتو واليانو، ملکانو، مشرانو، خطاب يافتګانو او بزرګانو خانداني او ذاتي واقعات او حالات سره د تصويرانو او رقعه جاتو پکښې شامل کړے شوي دي-

دغه شان په دې تاريخي دستاوېز کښې د نواب محمد شريف خان د انتظامي او شخصي صفاتو سره سره د هغوي د اهلِ علم او اهلِ هنر د قدردانۍ ستائينه هم په درنو لفظونو کښې شوي ده:

"آپ علاوه مدبر، شجاع و منتظم ہونے کے نہايت اولوالعزم عالی حوصلہ، غريب پرور، شريف نواز، خوش اخلاق، صالح، متشرع، رحم دل، فياض رئيس ہيں۔ آپ کے مشير و مصاحب بھی عمدہ اوصاف سے متصف ہيں اور آپ اہل علم و اہل ہنر کی بڑی قدر کرتے ہيں"۔[48]

ژباړه: لۀ مدبر، شجاع او منتظم نه علاوه هغۀ د لوړې حوصلې او عزم خاوند دے - د غريبانو همکار، شريف، صالح، سخي، رحمدل، په شرع برابر او د ښو اخلاقو څښتن دے - د هغۀ مشيران او همکاران هم د ښو اوصافو خاوندان دي - هغۀ د علم او د هنر د خاوندانو ډېر قدردان هم دے -

لۀ دي د نواب محمد شريف خان د شخصي صفتونو او انتظامي صلاحتيتونو سره سره د هغوي د فياضئ او كتاب دوستئ اندازه هم په اسانه كېدے شي - د علم او هنر د خاوندانو سره د هغوي مينه او احترام او درناوے هم راښائي - دغه شان د حكومتِ هند سره د هغوي د مظبوطو اړيكو ثرگندونه تري هم كيږي -

الغرض رياستِ دير د دې سيمې په رياستونو كښې د ټولو نه زوړ او مضبوط رياست وۀ - نواب محمد شريف خان د دې رياست يو داسې نوموړے حكمران تېر شوے دے چې د حكمران سره سره ښۀ علمي او ادبي ذوق هم لرلو - تاريخي كتابونه ئې په همت، سخاوت او شجاعت گواه دي - د گاونډي رياستونو سره سره د د خلافتِ عثمانيه او حكومت هند سره ئې هم مضبوط تعلقات لرل - د خلافت عثمانيه د خليفه سلطان عبدالحميد دوم لۀ خوا ورته د "معين الاسلام" امتيازي خطاب وركړے شوے وۀ او د حكومتِ هند لۀ خوا ورته د "نواب دير و سوات" خطاب وركړے شوے وۀ - د حكمران او نواب په حېث د هغوي د ځينې سياسي او انتظامي اقداماتو سره اختلاف امكان لري ولې خو د هغوي د علمي او ادبي خدماتو ثخه انكار نۀ شي كېدے - هغوي د علمي، روحاني او ادبي خلقو سره ډېره مينه لرله او په دې بنياد د هغوي د دربار سره د مختلفو علاقو نوموړي علمي، روحاني او ادبي شخصيات تړلي هم وو چې د رياست مختلفې ذمه وارئ به ئې سر ته رسولې - د نواب محمد شريف خان ټول دور د اندروني او بېروني سازشونو او بغاوتو په وجه په يو جنگي كشمكش كښې تېر شوے دے ولې خو هغوي بيا هم د رياستي او انتظامي هلو ځلو سره داسې علمي او ادبي خدماتونه هم كړي دي چې په پښتو او پښتنو ئې احسان گڼلے شو او په دې تحقيقي مقاله كښې ئې يوه تحقيقي جائزه وړاندې شوه - په دې علمي او ادبي آثارو كښې د محمد شريف سواتي "مناقب د حضرت اخون الياس عليه الرحمه"، د مولوي محمد رفيق د "شاهنامه فردوسي" پښتو منظوم ترجمه، د قاضي عرفان الدين "تهذيب الاسلام معرف تحفه شريفيه" او د پراگ نرائن بهارگو "صحيفه زرين" جلد اول و دوم شامل دي -

# حوالې:

[1] یوسفی، اللہ بخش، تاریخ یوسفزئی پٹھان، ادب محل سٹی ٹاور کابل بازار، طبع چہارم ۲۰۲۱، ص:۴۰۳

[2] Intelligence Branch, Military Report on Dir, Swat and Bajaur, Simla Government Monotype Office India, 1906, Page: 23

[3] McMahon / Ramsay, Report on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utmankhel and Sam Ranizai, Saeed Book Bank Peshawer, 1981, Page: 97

[4] Intelligence Branch, Military Report on Dir, Swat and Bajaur, Page: 40

[5] قاضی، محمد عرفان الدین، بدر منیر در احوال دولت دیر معروف تذکرہ محمد اورنگزیبیہ، (قلمی)، ص:۱۸۷

[6] ایضا، ص:۸۳

[7] ایضا، ص:۸۳، ۸۴

[8] سلیمان شاہد، گمنام ریاست، جلد دوم، علیز سکین پشاور، اکتوبر ۲۰۰۷ء، ص:۱۷

[9] قاضی، محمد عرفان الدین، بدر منیر در احوال دولت دیر معروف تذکرہ محمد اورنگزیبیہ، (قلمی)، ص:۸۳

[10] ایضا، ص:۰۴

[11] ایضا، ص:۸۳

[12] هیواد مل، زلمے، فرهنګ زبان و ادبیات پښتو، جلد: اول، مطبعه تعلیم و تربیه، ۱۹۷۷ء، ص: ۴۴۴، ۴۴۵

[13] ساحل، سعید احمد ، مقدمه، مشموله: مناقب اخون الیاس نقشبندي، دیر پښتو ادبي ټولنه، دویم ځل ۲۰۲۳ء، ص: ۰۲

[14] اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۶۳ء، ص: ۲۵۲

[15] همېش خلیل، د قلم خاوندان، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۹۹ء، ص: ۲۵۳

[16] اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، ص: ۲۵۲

[17] سواتي، محمد شریف، مناقب د اخون الیاس صاحب علیه الرحمه، مطبع فاروقي دهلي، ۱۳۲۱هجري، ص: مخپانه

[18] یوسفزے، مشتاق مجروح، زرکانړے، قلندر مومند ریسرچ سېل، ۲۰۱۸ء، ص:۲۹۰

[19] ساحل، سعید احمد ، مناقبِ حضرت اخون الیاس نقشبندي، ص: ۴۶، ۴۷

[20] سواتي، محمد شریف، مناقب د اخون الیاس صاحب علیه الرحمه، ص: ۰۲

[21] همدغه اثر، ص: ۲۶

[22] همېش خلیل، د قلم خاوندان، ص: ۱۸۲

[23] قمر راهي، کربښې، کوثر پریس مردان، ستمبر ۲۰۰۴ء، ص: ۷۳

[24] مراد شینواري، زمونږ قلمي نسخې، مشموله: پښتو ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، جنوري/ دسمبر ۱۹۶۱ء، ص: ۱۳

[25] قمر راهي، کرښې، ص: ۶۵

[26] همېش خلیل، د قلم خاوندان، ص: ۵۲۳

[27] Confidential, File No. 103/Dir, Dated: 30-10-1935, Title: Grant of a loan of Rs. Two Lakhs to the Nawab of Dir, Civil Secretariat NWFP Political Branch, Trible Reseach Cell Peshawer, Page: 08

[28] قمر راهي، کرښې، ص: ۷۱

[29] عارف نسیم وعبدالحمید، مخطوطات پشتو اکیڈیمی، پشتو اکیڈیمی پشاور یونیورسٹی، ۲۰۱۱، ص:۴۲۵

[30] شاہنامہ فردوسی، جلد دوم، در مطبع نامی منشی نول کشور، (س۔ن)، ص:۱۵

[31] مولوي محمد رفيق، شاهنامه فردوسي پښتو (قلمي)، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، نمبر: ۳۶۹، ص: ۰۱

[32] شاہنامہ فردوسی، جلد سوم، در مطبع نامی منشی نول کشور، (س۔ن)، ص:۱۹۱

[33] مولوي محمد رفيق، شاهنامه فردوسي پښتو (قلمي)، ص: ۴۲۹

[34] قمر راهي، کرښې، ص: ۷۴

[35] راجولي شاه خټک، ډاکټر، د پښتو ادبي تحريکونه، پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۹ء، ص: ۴۴۹

[36] همدغه اثر، ص: ۴۵۰

[37] خيال بخاري، مقدمه، مشموله: ديوان شاد محمد خان، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، د چاپ کال نۀ لري، ص: ۱۶

[38] خیال بخاری، سید، تیسرا دور ۱۷۷۲۔۱۹۰۰، مشمولہ: تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وہند، جلد:۱۳، پنجاب یونیورسٹی لاہور، ۱۹۷۱، ص:۱۳۵

[39] هېواد مل، سرحقق زلمے، مقدمه، مشموله: ديوان شمس الفلک، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۳ء، ص: ۴۵

[40] محمد قاسم، تذکرہ علماء خیبر پختونخوا، دارالقرآن والسنۃ سلطان آباد آدینہ صوابی، بار اول ستمبر ۲۰۱۵ء، ص:۳۵۲

[41] قاضی، محمد عرفان الدین، بدر منیر در احوال دولت دیر معروف تذکرہ محمد اورنگزیبیہ، (قلمی)، ص:۸۳

[42] ایضا، ص:۸۱

[43] قاضی عرفان الدین، تہذیب الاسلام المعروف تحفہ شریفیہ، در مطبع مصطفائی لاہور، ۱۳۲۱ ہجری، ص: سرورق

[44] ایضا، ص:۰۸

[45] ایضا، ص:۱۸۹

[46] پراگ نرائن بھارگو، صحیفہ زرین، جلد اول، مطبع منشی نولکشور لکھنو، ۱۹۰۲، ص:۱۰

[47] ایضا، ص: سرورق

[48] پراگ نرائن بھارگو، صحیفہ زرین، جلد دوم، مطبع منشی نولکشور لکھنو، ۱۹۰۲، ص:۰۳، ۰۴